عبدالغفور لېوال

۲۰۲۵/۰۹/۲۰

# بګرام، چين، لويديځ

## د تاريخ يو عجيب تکرار

د سيتي - ساکي قبيلو ګډوله يوچيان (کوشانيان) تر ميلاد شاوخوا سل کاله وړاندې د افغانستان په شمال کې ځای پرځای شول او د پينځه‌ګونو قبيلو په تشکيلاتو کې يې نور ساکان او تاهيان (تخاريان) مخ په سهيل راټېل وهل. دوی تر ميلاد پورې د سلو کلونو په ترڅ کې له هيندوکوښه هم راپورې‌وتل او د بګرام، کپيشا (کاپيسا) او کوفو، کاپو (کابلستان) هوارې يې هم لاندې کړې. له ۴۰ م تر ۱۱۰ م زېږدي يې په دې جغرافيا لومړۍ کورنۍ د کدفيزسانو (کوجولا/کزولا / کجولا کدفيزس او ويما کدفيزس) تر نوم لاندې واکمن وو او دويمه کورنۍ يې تر يوې لس‌کلنې تشې و ګډوډۍ روسته د سترکنيشکا/ کانيشکا/ کنشکا په مشرۍ له ۱۲۰ ميلادي څخه واک ته ورسېدل، چې بيا يې پاتې‌شونيو شاهزيو آن تر ۲۶۰ زېږدي پورې د هيندوستان ترشماله وړې و غټې واکمنۍ پسې وغځولې.

په دې ټوله دوره کې د افغانستان او شاوخوا سيمو لپاره تر ټولو مهم او ستراتيژيک اهميت د ورېښمو لارې درلود، چې سرچينه يې د چين په ګډون د سيمې له هېوادونو رانيولې بيا د روم تر پراخې ابمپراتورۍ پورې رسېده.
د ويما کدفيزس پلار ختيځ ته تر اباسين او پخپله ويما تر شمالي هيندوستان پورې سيمې ونيولې.

کنيشکا يې د ګندهارا شاه او د شاهانو شاه نومولی و. ده دوه پلازمينې لرلې، د اوړي له خوا به د کاپيسي په بګرام کې و او د ژمي له خوا به «پورا شاپورا» يا ننني پېښور کې په واکمنۍ بوخت و. دواړه پلازمينې د کوشاني مدنيت او بودايي دين له مهمو مراکزو څخه وو.

د لومړيو کوشانيانو سيالي او رقابت له چيني واکمنو سره جدي او خونړۍ و، ځکه دواړو ځواکونو غوښتل د ورېښمو د لارې لويه برخه تر واک لاندې ولري. او پر دې لاره د واک له لارې يو بل ځانته تابع کړي. کله چې په ۷۸ زېږدي کې ويما کدفيزس واک ته ورسېد، چينايانو د اريانا له کوشانيانو ګواښ احساس کړ، دوی وار له مخه په ۷۳ زېږدي کې خپل نوموتی جنرال پان – چاو Pan- Chao لويديځ لوري ته راخوځولی و، چې د ورېښمو د لارې د درېسره څانګو شاوخوا سيمې ونيسي. جنرال چاو سينکيانګ او ختن ونيول او ځان يې د کاسي‌غر (کاشغر) لمنو ته راورساوه. ده تر ۹۲ زېږدي پورې (کوچه) او (قره‌شهر) هم ونيول او مخامخ يې د ورېښمو لارې شمالي څانګې ته د چينايانو لاره ورپرانيسته. تاريخ ليکونکي فکر کوي، چې د چينايانو له دې پرمختګ سره د وريښمو لارې واک ان تر فرغانې او په بل اړخ کې تر خزر و د رومي ابمپراتورۍ ترختيزو پولو پورې ورسېد.

ويما کدفيزس د دې خوځښتونو په دليل او اغېز پوهېده. اول يې د يوې معاملې وړانديز وکړ، داسې چې په ۹۰ زېږدي کې يې ځان ته د چين د ابمپراتور لور وغوښتله او په دې سياسي ريباري کې يې وغوښتل خپل ځواک هم د چين له ابمپراتور سره برابر وښيي. د ويما ريباران د چين دربار ته ونه‌رسېدل، ځکه په لاره کې د جنرال پان چاو له لښکرو سره مخ شول او هغوی په سپکاوي بېرته راوشړل. ويماکدفيزس چې خپل ريبار هيئت ته دغه سپکاوی ونه‌زغملای شو، نو اويا زره کسيز لښکر يې د پامير (څونګ لينګ Tsung - Ling ) درې له لارې وروخوځول، چې د جنرال چاو مخه ونيسي. اريايي لښکر چې د واخان کوتل له لارې د ختيز پامير لمنو ته ورسېده او په غالب ګومان د کاسي‌غره تر يارکند پورې وړاندې ولاړ د ژمي يخنۍ کې ګير شو او سختې واورې و توپان تارپه تار کړ. يوازې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولئ

ځوزره کسان ستړي و ستومانه د پان چاو مخې ته ورغلل چې په اسانۍ سره وځپل شول، ویماکدفیزس ماته وخوړه او د چین ابمپراتور ته یې د منظم کلني باج ورکول ومنل.

ویما کدفیزس چې له دې اړخه دردېدلی و، ژر یې پام لویدیځ ته واوښت او له رومي ابمپراتورۍ سره یې اړیکي جوړ کړل. کوشاني هیئت اول د «تراجان» دربار ته ولاړل او په ۹۹ زیږدي کې روم ته ورسېدل. رومیانو دا مهال د مدیترانې اسیایي څنډې نیولې وې او د ورېښمو د سوداګریزې لارې پر ارزښت خبر پوهېدل، په دې هم خبر ول، چې د دغې لارې لویه و ستراتیژیکه برخه لا هم د اریایي (کوشاني) ابمپراتورۍ په لاس کې ده.

د (سیلون لویي) د لیکنې له مخې له رومي ابمپراتورۍ سره د کوشانیانو انډیوالي داسې برید ته ورسېده، چې د اریایي سوداګرو کاروانونه تر مصر و شام پورې په ارامۍ تلل راتلل او کوشاني ابمپراتورۍ ورو ورو بایللی برم بېرته ترلاسه کړ. شاهنشاه کنیشکا د ورېښمو د لارې د سوداګرۍ، بودایي فرهنګپالنې او په خپلې ابمپراتورۍ کې د قبایلو د یووالي په مټ یوځل بیا د ورېښمو د لارې لویه برخه واک راخپل کړ او شمالختیځ ته تر تبت او چیني تورکیستان پورې وړاندې ولاړ. د موسیو الفرد فوشې له نظره له بګرام او پېښور څخه د هیندوستان شمال، کشمیر، تبت، چیني تورکیستان، د منځنۍ اسیا لویه برخه، پارتیا او د خزر شاوخوا سیمې د دغه پاچا تر لاس لاندې وې او د دې ټولې پراخې جغرافیې مرکز بګرام و. د بګرام ستراتیژیک موقعیت هغه مهال دومره مهم ګڼل کېدل، چې دغې سیمې ته یې د خدای سیمه ویل او شاوخوا ولسونو فکر کاوه، چې کنیشکا د اسمان زوی دی...

د بګرام په چورلیز د چین او غرب اوسنۍ سیالي په عجیبه بڼه تکراریږي. روم په لرغوني زمانه کې د ټول لویدیځ د ځواک مرکز و، لکه اوس چې انګریز، لویدیزه اروپا او په سر کې یې امریکا د دغه ځواک تمثیل کوي. چین نن هم په سیمه کې د سوداګریزو لارو د پراختیا په هڅه بوخت دی او (د یوکمربند، یوه لار One Belt One Road) ستراتیژي یې د ورېښمو د لارې تاریخي بهیر بېرته راژوندی کوی. پخپله چینایان دې هڅې ته د نوې ورېښمو لارې نوښت وایي. لویدیځ د چین دغو هڅو ته وارخطا دی او ټولې سترګې بګرام ته دي.

د کوشاني ابمپراتورۍ د ژمي پلازمېنه پېښور هم د همدغې سیالۍ په اور کې سوزي او د نیابتي ډلو تر پښو لاندې زخمي دی.

د دوبي پلازمېنه بګرام د نړۍ د خبرونو سرټکی ګرځېدلی او هېوادمشرټرمپ د انګریزي لومړي وزیر ترڅنګ یې د بېرته نیولو خبر ورکوي.

چین وایي: هیڅکله به اجازه ورنه‌کړي چې امریکا بګرام ته لاس راوغځوي. یوازینی څه چې توپیر لري هغه د لرغوني اریانا په ځایناستي افغانستان کې د کنیشکا په شان د یوه پیاوړي ملي او ستراتیژیک واکمن تشه ده.

شاوخوا دوه زره کاله روسته دغه سیمې هماغه اهمیت ته رسېدلې دي، خو موږ یې په ارزښت خبر نه یو او نه پوهېږو چې څه روان دي او ولې روان دي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ